عمومي اسامبله
امنیت شورا

خپریدل: عمومي
۳ سپټمبر ۲۰۱۹
اصل: انګلیسي

عمومي اسامبله
درې اویایمه ناسته
د اجنډا ۴۰ توکی
د افغانستان حالت

د امنیت شورا
څلور اویایم کال

## د افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت یې اغیزې

## د عمومي منشي راپور

### لومړی: پیژندنه

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پریکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۴۶۰ (۲۰۱۹) پریکړه لیک په تعقیب وړاندې کیږي په کومو کې چې له عمومي منشي غوښتل شوي وو، چې په هرو دریو میاشتو کې په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه راپور ورکړي.

۲. د نوموړي د ۲۰۱۹ کال د جون د ۱۴ نیټې (A/73/902-S/2019/493) د راپور د خپریدو راهیسې، دغه راپور د پام وړ بشري ، پراختیایي او بشري حقونو د هڅو په شمول، په افغانستان کې د ملګرو فعالیتونو په اړه تازه معلومات برابروي.

### دویم: اړوند پرمختګونه

۳. لکه څنګه چې د رایې ورکولو لپاره چمتووالي دوام لري، د راپور ورکولو د مودې په جریان کې، د ولسمشریزو ټاکنو لپاره کمپاین چې د سپټمبر د ۲۸ نیټې لپاره پلان شوی و، پیل شو. د امریکا متحده ایالتونو له طالبانو سره د خبرو اترو ترسره کیدو ته دوام ورکړ، او د خبرو اترو له لارې افغان کشالې ته د حل موندلو په موخه د افغانانو تر منځ په قطر کې د سولې کنفرانس په لار واچول شو. د افغانستان د حکومت او پاکستان تر منځ د لوړې کچې ښکیلتاووې په یوه مثبت چاپیریال کې ترسره شوې. د شخړې د لوړو کچو په درلودلو سره، د بیلګې په توګه، د هیواد په جنوبي، شرقي او جنوب شرقي سیمو کې امنیتي وضعیت بې ثباته پاته شوی. د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نیمايي کې ملکي تلفات کم شوي خو بیا هم کچې یې لوړې وې. د همغږۍ او ارزونې د ګډ بورډ په ناسته کې، د افغانستان د حکومت استازو، کلیدي بسپنه ورکوونکو او ملګرو ملتونو د ژنیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې تر چوکاټ لاندې د لاسته راوړنو او همداراز د روانو اصلاحاتو د هڅو په برخه کې د حکومت د ننګونو ، د بیلګې په توګه، د فساد پر وړاندې د مبارزې په اړه د سوکه پرمختګ په اړه خبرې وکړې. بشردوستانه حالت جدي دی.

### الف. سیاسي پرمختګونه

۴. د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د ولسمشریزو ټاکنو لپاره چمتووالي ته چې د سپټمبر د ۲۸ نیټې لپاره په پام کې نیول شوې، دوام ورکړ. په موازي ډول، ځینو سیاسي اشخاصو، د پخواني ولسمشر حامد کرزي په شمول، او د ولسمشریزو ټاکنو ځینو نوماندانو استدلال وکړ چې له طالبانو سره د سولې هوکړې ته رسیدل باید د ټاکنو په پرتله لومړیتوب ولري.

۵. د جون د ۸ او ۲۹ تر منځ، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د هیواد په کچه د رایه ورکونکو نوملیکنه نوې او تازه کړه، چې په پایله کې یې د ۵۷۳۷۲۱ نویو رایه ورکونکو د راجسټر کولو لپاره لار هواره شوه د کومو له جملې څخه چې نږدې ۳۶ سلنه یې ښځې دي. د دې سربیره، د غزني په ولایت کې د رایه ورکونکو د نوم لیکنې بشپړ بهیر ترسره شو، چیرې چې په ۲۰۱۸ کال کې د سیاسي کړکیچ او ناامنیو له امله پارلماني ټاکني ترسره نه شوې. د نوم لیکنې د توکو د ترلاسه کولو په برخه کې د امنیتي ننګونو سره یو ځای، چې په پایله کې یې د رایه ورکونکو د نوملړ د نهایي کولو په برخه کې ځنډ را منځ ته شو، د جون په ۲۷، کمیسیون پریکړه وکړه چې په ولایت کې د یوې بلې اونۍ لپاره د نوم لیکنې لړۍ وغځوي. د جولای په ۲۵، کمیسیون د ۹،۶ میلیون راجسټر شویو کسانو لومړني ارقام اعلان کړل.

۶. د سیاسي ګوندونو او یو شمیر ولسمشریزو نوماندانو د غوښتونو په غبرګون کې، کمیسیون د رایه ورکونکو د بایو میټریک د تشخیص معرفي لپاره چمتووالي او د ټاکنو په ورځ د پایلو بریښنایي لیږد ته دوام ورکړ. حکومت د ډرمالوګ سره ، چې د ټیکنالوژۍ یو پلورونکی دی ، د سافټویر او اضافي بریښنایي تجهیزاتو د تحویل لپاره یو تړون لاسلیک کړ.

۷. د جولای په میاشت کې د امنیتي ارګانونو له خوا د رایې ورکولو د ټولټال ۵،۳۸۸ مرکزونو له ارزونې وروسته ، ملي دفاع وزارت د انتخاباتو د امنیت د پلان په اړه د بیاکتنې د یوه تمرین چې، په هغه کې د کورنیو چارو وزارت ، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او نورو دولتي ادارو او د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) غوښ ملاتړ ماموریت برخه اخیستي وه، کوربتوب وکړ. د نوماندانو لپاره د ساتندویه تدبیرونو په شمول، د کمپاین د مودې لپاره امنیتي تیاریانې پلې شوې. د جولای په ۲۸، په کابل کې نامعلومو بریدکونکو د امرالله صالح په دفتر چې د ولسمشر د لومړي مرستیال د څوکۍ لپاره د ولسمشر اشرف غني له خوا نومول شوی، ډله ییز برید ترسره کړ. په برید کې ټولټال ۲۱ ملکیان مړه او نور ۵۰ تنه ټپیان شوو.

۸. د انتخاباتي مشاهداتو او د ټاکنیزو شخړو د هوارولو لپاره هم چمتووالی دوام لري. د جولای په ۳۰، ولسمشر د انتخاباتي شکایتونو د مرکزي کمیسیون لخوا د ټولټال ۱۱۲ولایتي انتخاباتي شکایتونو د کمیشنرانو ګمارنه ، چې ۳۴ هغه یې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون لخوا د ټاکنو د قانون د اړتیا سره سم وړاندیز شوي، تصویب کړه. نویو ولایتي کمیشنرانو د اګسټ د میاشتې پر دریمه لوړه پر ځای کړه. د اګسټ تر ۱۵، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د ټاکنیزو کمپاینونو په تړاو د پنځو ولایتونو څخه ۱۸ شکایتونه ترلاسه کړي چې زیاتره هغه یې د ټاکنیزو موخو لپاره د امنیتي سرچینو د ادعا شوې ناسمې کارونې سره تړاو لري. د دې سربیره، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون خپل محلي او ولایتي دفترونه د رایه ورکونکو او نوماندانو په اختیار کې ورکړل تر څو د کمپاین یا د ټاکنو په جریان کې د سیاسي حقونو د سرغړونو په تړاو شکایتونه درج کړي. د نړیوالو اړیکو لپاره ملي دیموکراتیک انیستیتیوت چې یو نادولتي سازمان دی او مرکز یې په واشنګټن ډي سي کې دی د انتخاباتي مشاهداتو په برخه کې د افغان مدني ټولنې د سازمانونو په روزنو پیل وکړ او د ټاکنو لپاره یې د نوماندانو د استازو د روزلو په برخه کې خپله لیوالتیا اعلان کړه. په هرصورت ، په ډیری ولایتونو کې د ټاکنو د راجسټر شوي څارونکو شمیر ټیټ پاتې دی.

۹. د ټاکنو لپاره ټولټال ۱۴۹ میلیون ډالره بودیجه نهایي شوې، چې له هغې جملې څخه حکومت د ټولټال ۹۰ میلیون ډالرو ژمنه کړې او پاته ۵۹ میلیون ډالره د ملګرو ملتونو د انتخاباتي ملاتړ د پروژې له لارې چې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام لخوا پرمخ وړل کیږي، تمویل شوې. د اګسټ پر لومړۍ نیټه، د ټاکنیز مدیریت ارګانونو او ملګرو ملتونو د پروژې یو بیا کتل شوی سند لاسلیک کړ، چې د ۲۰۱۹ کال د ټاکنو د پروسې او بودیجې بدلونونه منعکسوي.

۱۰. د راپور ورکولو د دورې په جریان کې، د انتخاباتي موخو لپاره د دولتي سرچینو د کارولو په اړه اندیښنې دوام لري. د جون په ۲۵، د ولسمشریزو نوماندانو شورا، چې د ولسمشریزو ټاکنو د اتو ټیکټونو څخه استازیتوب کوي په کابل کې د غازي په لوبغالي کې په لاریون لاس پورې کړ او د ولسمشر څخه یې د استعفا غوښتنه کوله او یوه موقت حکومت ته اجازه ورکړې تر څو ټاکنې اداره کړي. د کمپاین د مودې د پیل په تعقیب، شورا په انتخاباتي پروسه کې د ولسمشر لخوا د ادعا شوې لاسوهنې په اړه همدارنګه اندیښنې راپورته کړې. د جولای په ۲۹، د ولسمشرۍ یو نوماند، شهاب حکیمي رسنیو ته وویل چې شورا لاهم د ټاکنو په اړه د خپل دریځ په اړه بحث کوي، یو شمیر نوماندانو ګواښ وکړ که چیرې د دوی اندیښنو ته پاملرنه ونه شي نو دوی به ټاکنې تحریم کړي. په جلا توګه، د جولای په ۱۳، د ولسمشرۍ دریو نوماندانو، هر یوه عبداله عبداله، اجرائیه رییس، حنیف اتمر، د ملي امنیت پخواني سلاکار او ګلبدین حکمتیار، د اسلامي ګوند موسس اعلان وکړ چې دوی په ټاکنو کې د دولتي سرچینو څخه د ناوړه ګټه اخیستنې د مخنیوي لپاره د روڼتیا د اضافي میکانیزمونو لپاره د لاپې کولو په موخه یو ایتلاف رامنځ ته کړی. د جولای په ۳۰، د عامه جاري خبرو اترو په جریان کې، د افغانستان د رښو ټاکنو بنسټ مشر، محمد نعیم ایوب زاده رسنیو ته وویل چې یو شمیر زیاتو عامه چارواکو د دولتي سرچینو په کارولو سره د ټاکنو په کمپاین کې ګډون کړی او خبرداری یې ورکړ چې دا ډول کړنې ممکن په ټولټاکنو باندې د اعتماد کچه راکمه کړي. د رسمي شکایتونو په غبرګون کې، د اګسټ پر لومړۍ نیټه، د دولتي اسانتیاوو او د کمپاین د موخو لپاره د مالي سرچینو د کارولو په شمول د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ولسمشر او اجرائیه رییس دواړو ته د انتخاباتي کمپاین د مقرراتو څخه د سرغړونې په خاطر یو لیکي خبرداری صادر کړ. په خبرتیا کې ، کمیسیون د کمپاین په فعالیتونو کې د دولتي وسایطو او دولتي تجهیزاتو کارول ، او همدارنګه په انتخاباتي غونډو کې د لوړ پوړو دولتي چارواکو برخه اخیستنه په ګوته کړه.

۱۱. د جولای پر ۱۹، د ټاکنو د ملاتړ د ډلې مشرې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) له خوا ترسره شوه چې په ترکیب کې یې مهم ټاکنیز بسپنه ورکونکي و ، یوه اعلامیه خپره کړې چې پکې د ټولو کاندیدانو او برخه اخیستونکو ترمنځ د ټاکنیزو مبارزو د پر مخ وړلو لپاره د یوې هموارې سطحې د ساتلو په اړه د خلکو اندیښنې په ګوته شوې. دې ډلې د باور وړ ټاکنو لپاره د ولسمشر او اجرائیه رئیس څرګندې ژمنې وستایلې او په دواړو مشرانو یې غږ وکړ چې خپلې چارې د ټاکنو له قانون او د ضوابطو د لایحې سره په سمون کې ترسره کړي تر څو د انتخاباتي مدیریت د ارګانونو خپلواکۍ تضمین کړي. د جولای پر ۲۱، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې دوه فرمانونه صادر کړي ، چې په هغو کې یې په سیمه ییزه کچه د ولسمشرۍ د ټاکنو څخه تر وروسته مودې پورې د منځنۍ کچې او لوړې کچې د پسټونو ګمارنې ځنډوي او چارواکو ته یې امر کړی چې په انتخاباتي چارو کې د مداخلې څخه ډډه وکړي. په پای کې ، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون د جوالی په ۲۷ د یوې اعلامیې په خپرولو سره ، ملکي کارمندانو ته د هغوی د ضوابطو تر لایحې لاندې د هغوی ژمنې ور په یاد کړې او له هغوی یې وغوښتل چې د کاري ساعتونو پرمهال د کمپاین کولو یا د نوماندانو په ګټه یا د هغوي پر وړاندې د دولتي سرچینو د کارولو څخه ډډه وکړي. په ورته نیټه، د انتخاباتي مدیریت ادارو یو بیان خپور کړ چې له ټولو شکیلو اړخونو ، په ځانګړې توګه د کاندیدانو او د هغوی د ملاتړ کونکو څخه غوښتنه کوي تر څو د کمپاین د اداره کولو د کړنلارو او مقرراتو په ګډون د قانون سره سم عمل وکړي.

۱۲. د ولسمشرۍ د ټاکنو د رسمي کمپاین موده د جولای په ۲۸ نیټه په کراره پیل شوه. په ورته ورځ، ولسمشر او اجرائیه رییس په رسمي توګه خپل ټاکنیز کمپاینونه پیل کړل، هرې ډلې په کابل کې ستر لاریونونه ترسره کول. د دې په تعقیب د ولسمشرۍ نورو نوماندانو، د عنایت اله حفیظ په شمول د جولای په ۲۸، ګلبدین حکمتیار د اګسټ پر لومړۍ، رحمت اله نبیل، د ملي امنیت د ریاست پخواني رییس د اګسټ پر دریمه او سید نوراله جلیلي د اګسټ پر څلورمه خپل کمپاینونه پیل کړل. د ولسمشرۍ نورو نوماندانو د خپلو کمپاینونو رسمي پیل وځنډاوه او همدارنګه یادونه کوي چې د ټاکنیزو مبارزو د ترسره کولو لپاره یوه همواره سطحه شتون نه لري او همداراز په ټاکنو باندې د سولې د بهیر د اغیزو پر سر ناڅرګنوالی د ځنډ مهم لاملونه دي. د اګسټ پر ۶، د ولسمشري یو نوماند، زلمی رسول له خپلې نوماندۍ څخه لاس پر سر شو او د ولسمشر د انتخاباتي ټکټ څخه یې ملاتړ اعلان کړ. د اګسټ پر ۸، د نومورې د ولسمشري د ټکټ په اړه د کاندیدانو تر منځ د داخلي اختلافاتو د راپورونو په حواله، حنیف اتمر خپل کمپاین و ځنډاوه ، د ولسمشر لخوا د ټاکنو په پروسه کې لاسوهنې ته یې اشاره وکړه او استدلال یې وکړ چې په ټاکنو پورې تړلې سیاسي بې ثباتي کولای شي د سولې پروسه زیانمنه کړي.

۱۳. د شخړې د پای ته رسولو لپاره د یوه سیاسي جوړجاړي په لور حرکت ګړندی شوی ، د داخلي او نړیوالو هڅو لخوا پیاوړی شوی. د جون په ۲۵ ، کابل ته د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو د وزیر مایک پامپیو د سفر وروسته ، د سولې په تړاو د افغانانو تر منځ د کنفرانس لپاره د یوه دوه ورځني ځند په درلودلو سره، د افغانستان د پخلاینې لپاره د متحده ایالتونو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په دوحه کې د جون له ۲۹ څخه د جولای تر ۹ پورې له طالبانو سره خبرې وکړې. د قطر او جرمني په ګډ کوربه توب، د ټولو خواو په رضایت په کنفرانس کې د افغانستان د دولت استازو، د هغوی په انفرادي ظرفیت کې، سیاسي ګوندونو، مدنې ټولنې او طالبانو برخه اخیستې وه. برخه اخیستونکو په دوو پاڼو کې یو پریکړه لیک وړاندې کړ چې پکې د ټولو خواو څخه غوښتنه شوې وه چې د ټول شموله خبرو اترو له لارې د سولې په ترلاسه کولو سره د افغانانو غوښتنې پوره کړي. دوی همداراز د بندیانو د خوشې کولو ، د عامه زیربناوو د خوندیتوب او د ملکي تلفاتو د راکمولو غوښتنه هم وکړه، او څرګنده یې کړه چې له جګړې وروسته افغانستان به یو اسلامي قانوني سیستم ولري ، په سیاسي ، ټولنیزو ، اقتصادي ، تعلیمي او فرهنګي چارو کې به اسلامي ارزښتونه د اسلامي چوکاټ د یوې برخې په توګه د ښځو د حقونو او د ټولو لړکیو ډلو لپاره مساوات تضمین کړي. ښاغلي خلیلزاد او طالبانو د اګست په ۳ په دوحه کې غونډې بیا پیل کړې او خبرې د اګست په ۱۱ پای ته ورسیدې.

۱۴. د افغان سولې بهیر په ملاتړ د یوې نړیوالې اجماع د رامنځ ته کولو هڅې دوام لري. د جولای په ۱۰ او ۱۱ ، د افغان سولې د پروسې په اړه دریمه درې اړخیز مشورتي ناسته ، د چین د ځانګړي استازي ډینګ ژیجن، د روسیې د فدراسیون د جمهور رییس د استازي ضمیر کابلوف او د ښاغلي خلیلزاد په ګډون په بیجینګ کې ترسره شوه. سلامشورې د پاکستان په ګډون په یوه پراخ فورمټ کې ترسره شوې . په یوې اعلامیې کې ، څلورو هیوادونو په دوحه او مسکو کې د افغانانو تر منځ د غونډو هرکلی وکړ ، د تاوتریخوالي کمولو غوښتنه یې وکړه او د طالبانو، حکومت او نورو افغانانو ترمنځ یې د خبرو اترو د سمدستي پیل غوښتنه وکړه.

۱۵. حکومت د سولې د بهیر په ملاتړ خپل اداري ترتیبات له سره نوي کړي. د جون په ۲۹، ولسمشر د خپل دفتر پخوانی رییس سلام رحیمي د سولې په چارو کې د دولت د وزیر په حیث و ټاکه. د جولای په ۲۷، ولسمشر یو فرمان صادر کړ چې د سولې عالي شورا دارالانشاء یې منحل کړه ، او د جوالی په ۳۱ حکومت د خبرو اترو د یوې ۱۵ کسیزې ډلې د جوړولو اعلان وکړ چې له طالبانو سره په راتلونکو خبرو کې د هیواد ستازیتوب وکړي. د ټیم د غړو نومونه ندي اعلان شوي.

۱۶. د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۲۰ او ۲۱، د عمومي منشي مرستیال ، د سیاسي او سولې جوړونې د چارو لپاره د عمومي منشي مرستیال او د ملګرو ملتونو د وګړو د وجهي صندوق اجرائیوي رییسانو او د جنډر د مساواتو او د ښځو د ځواکمنتیا لپاره د ملګرو ملتونو نهاد (UN-Women) د افغانستان څخه لیدنه وکړه کومه چې په ښځو ، سولې او امنیت متمرکز وه. لوړ پوړو چارواکو په تیرو ۱۸ کلونو کې د ښځو د حقونو په اړه ترسره شوی د پام وړ پرمختګ په ګوته کړ او د سولې د بهیر او د ټاکنو په شمول، په سیاسي او عامه ژوندانه کې د ښځو د معقول ګډون پر اړتیا ټینګار وکړ. هغوي همدارنګه د سولې د یوه ټولشموله بهیر او د جنډر، توکم او سیمه ییزو توپیرونو پر بنسټ تبعیض ته د رسیدګۍ پر اهمیت ټینګار وکړ. دغه پلاوي په کابل کې د ښځو له بیلا بیلو ډلو سره هم یوه ناسته وکړه ، چې د لومړۍ میرمنې رولا غني په کوربتوب جوړه شوې وه ، او د بامیانو ولایت ته یې هم سفر وکړ ترڅو د ښځو په شمول څوک چې د ماین پاکۍ په چارو کې کار کوي، د ټولنې د یو شمیر بیلابیلو استازو سره وګوري.

۱۷. د ولسمشر او اجرائیه رییس سره د هغې په غونډو کې ، د عمومي منشي مرستیال د سولې د یوه ټولشموله بهیر، د باور په را منځ ته کولو او د جنسیت ، توکم او سیمه ییزو توپیرونو پر اساس د تبعیض د له منځه وړلو پر اهمیت ټینګار وکړ.

۱۸. د یوناما د ماموریت د ښه نیت د دفترونو لاندې، د سولې د بهیر ، د ملکي وګړو د ساتنې او د بشر پالنې د لاسرسي په اړه په اړوندو مسلو پورې د طالبانو له استازو سره خپلې ښکېلتیا ته دوام ورکوي. د افغانستان لپاره زما ځانګړي استازي او د یوناما مشر د جولای په ۲۸ په دوحه کې د طالبانو د غورځنګ له استازو سره وکتل ترڅو د افغانانو د خپلمنځي خبرو اترو په لور د پرمختګ په اړه وغږیږي ، په ځانګړي توګه د سولې په پروسه کې

د ښځو د ګډون پر اهمیت او همدارنګه د تاوتریخوالي د کمولو له لارې د باور د رامنځ ته کولو پر اړتیا او د ملکي وګړو د ساتنې لپاره د نورو اقداماتو په پلي کولو ټینګار کوي. د جولای پر دوهمه او دریمه، یوناما په بشکیک کې د عالمانو ، مدني ټولنې او په سیمه کې د هیوادونو د پخوانیو چارواکو د غونډې کوربه و. د دې ناستې په بحثونه کې، د منځنۍ آسیا لپاره د مخه نیونکې ډیپلوماسۍ لپاره د ملګرو ملتونو د سیمه ییز مرکز استازو هم برخه اخیستې وه ، په افغانستان کې یې د سولې په پروسه کې د سیمې د هیوادونو په رول او د سولې د را منځ ته کیدو وروسته د دغه هیواد لپاره د ممکنه سیمه ییز ملاتړ په اړه تمرکز وکړ. برخه اخیستونکو د سولې په اړه د یوې سیمه ییزې اجماع پر اهمیت ټینګار وکړ او له ملګرو ملتونو یې وغوښتل چې د سولې په هر ډول راتلونکې پروسه کې مرکزي رول ولوبوي.

۱۹. یوناما د سیمه ییزو شخړو د هوارولو او پخلاینې په موخه د ټولنو او محلي حکومتي چارواکو سره کار ته دوام ورکوي. پداسې حال کې چې یوناما اته نورې پروژې پلي کوي ، چې د ډیری هغو موخه یې د ځایي شخړو د هوارولو د میکانیزمونو پیاوړې کول او په سیمه ییزه کچه د سولې جوړونې د پروګرامونو ملاتړ دی، په ۲۰۱۹ کال کې تر اوسه، یوناما د محلي سولې د نوښتونو د اوو نویو پروژو په پلي کول پیل کړی. د کنړ په ولایت کې په یوه هڅه کې ، یوناما د دوو قومونو ترمنځ چې د سولې په جرګه کې لوړې کچې ته ورسیده، خبرې اترې تسهیل کړې ، په کومه کې چې دواړو خواو او نورو محلي حکومتي او د ټولنې برخه والو چې یو پر څلورمه برخه یې ښځې وې ، د ځمکې د ملکیت پر سره اوږده شخړه په بریالیتوب سره حل کړه. دغه تړون ته د ځایي رسنیو لخوا پراخ پوښښ ورکړل شو، دا کار د دې باعث شو چې په نورو ولایتونو کې د ټولنې مشران د ځایي شخړو د اوارولو لپاره د یوناما ملاتړ وغواړي.

**ب. امنیت**

۲۰. د زیات شمیر امنیتي پیښو په درلودلو سره، امنیتي وضعیت بې ثباته پاته شوی. د مې د ۱۰ او د اګسټ د ۸ تر منځ، یوناما د امنیت په تړاو ټولټال ۵۸۵۶ پیښې مستندې کړې چې دا د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۱ سلنه زیاتوالی ښیي. تر ټولو زیاتې پیښې د هیواد په جنوبي سیمه کې پیښې شوې چې ور پسې شرقي او جنوب شرقي سیمې راځي، دغه دری سیمې د ټولو پیښو ۶۳ سلنه جوړوي. په ۲۰۱۸ کال کې د ورته مودې سره په پرتله د وسله والو نښتو په برخه کې د ۷ سلنې کموالي سربیره، تاسس شوېو رجحاناتو بدلون نه دی موندلی، ټولټال ۳۲۹۴ وسله والې نښتې د ټولو پیښو د ۶۵ سلنې لامل شوې. د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د کارونې په تړاو پیښې د پیښو دوهمه لوړه کټګوري پاته شوې چې ۱۷ سلنه زیاتوالی ښیي. ځانمرګي بریدونه ۴۴ سلنه کم شوې. افغان او نړیوالو پوځې ځواکونو هوایي بریدونو ته دوام ورکړی ، د راپور ورکولو په موده کې یې ټولټال ۵۰۶ بریدونه ثبت شوي ، چې دا د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ۵۷ سلنه زیاتوالی دی.

۲۱. د راپور ورکولو په جریان کې جګړې په دوامداره توګه په لوړه کچه دوام درلود. د کوچني اختر د رخصتیو په ورځو کې د یوې ثبت شوې استثنا پرته ، په کومه کې چې د تاریخي رجحاناتو سره په مطابقت کې د جګړې کچه د پام وړ کمه شوې ، او علت یې دا وه چې حکومت پلوه ځواکونو او د دولت ضد عناصرو خپل بریدونه کم کړي. برعکس ، د روژې په مبارکه میاشت کې په جګړو کې هیڅ بدلون نه دی راغلی ، ځکه چې دولت ضد عناصرو څو ځانمرګي بریدونه ترسره کړي او دواړو لوریو د عملیاتي تحرک ساتلو لپاره خپله اراده په عامه ډول څرګنده کړې. افغان او نړیوالي پوځي هڅې تر ډیره په هوایي بریدونو باندې تکیه کوي تر څو د دولت ضد عناصرو پرمختګ د سترو ښاري مرکزونو څخه دفاع وکړي، په هلمند او غزنی ولایتونو کې هوایي بریدونه د راپور ورکولو د مودې په جریان کې د ټولیز شمیر ۴۷ سلنه جوړوي. افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو هم د افغانستان د لویو لارو په اوږدو کې په ځانګړې توګه په غزنی ، زابل ، بلخ او جوزجان ولایتونو کې د امنیت د ښه کولو لپاره د پام وړ سرچینې وقف کړې.

۲۲. نه دولت پلوه ځواکونو او نه دولت ضد عناصرو د راپور ورکولو د مودې پر مهال د اراضي د نیولو په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې ترلاسه کړې. د شخړې تر ټولو فعاله سیمه د کندهار ولایت وه ، او ورپسې د هلمند او ننګرهار ولایتونه دي. افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د ولسوالیو دری اداري مرکزونه، د غزني په ولایت کې د ده یک او خواجه عمري ولسوالۍ او د فاریاب په ولایت کې د چراغ ولسوالۍ بیرته ونیولې. طالبانو د

جوزجان ولایت د قوش تپې ولسوالی او د بدخشان ولایت د کیران او منجان ولسوالۍ ونیولې او د لنډمهال لپاره یې د زابل ولایت د شمولزیو ولسوالی ، د کندهار ولایت د معروف ولسوالۍ او د پکتیکا ولایت ډیله ولسوالۍ ونیولې. که څه هم د دولت له خوا د ولایتي مرکزونو د کنټرول په برخه کې د پام وړ ګواښونه موجود نه و ، خو د فراه ، کندز او غزني ولایتونو ولایتي مرکزونو ته نږدې د طالبانو د لوړې کچې فعالیتونه راپور شوې.

۲۳. د دولت ضد عناصرو له خوا د لوړې کچې بریدونه دوام لري ، د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې د ۳۹ هغو او د مخکنۍ مودې د اتو هغو په پرتله د راپور ورکولو د مودې پر مهال۲۲ ځانمرګي بریدونه ثبت شوي دي. د دریو ډله ییزو بریدونو په شمول، د کابل په ښار کې ۱۰ بریدونه ثبت شوي، یو د جولای پر لومړۍ نیټه، د افغان ملي دفاعي امنیتي ځواکونو په یوه لوجیستیکي ودانۍ، بل د جولای پر ۲۸، د ښاغلي امرالله صالح د افغانستان د شنه روند/جریان پر ودانۍ او بل د اګسټ پر اوومه د کابل ښار د پولیسو په ۶ ناحیه کې د پولیسو مرکزي دفتر په نښه کړ. نور مهم ځانمرګي بریدونه د می په ۳۰ ، د ارزګان ولایت د شهید حساس په ولسوالۍ کې د افغان ملي پولیسو د ولسوالۍ د مرکز په وړاندې او د جولای په، ۱۸ د کندهار په ښار کې د پولیسو د مرکزي دفتر په وړاندې ترسره شوي. طالبانو د دواړو بریدونو مسولیت په غاړه واخیست.

۲۴. په عراق او شام کې د خراسان ولایت اسلامي دولت-داعش انعطاف لرونکی پاتې شوی. افغان او نړیوالو پوځي ځواکونو په ننګرهار او کنړ ولایتونو کې د دې ډلې د مرکزونو پر وړاندې زیات عملیات ترسره کړي، چې په پایله کې یې د داعش د مشرتابه جوړښتونه څه نا څه زیانمن کړي ، خو دغه غورځنګ په ختیځ کې له طالبانو سره سیالۍ ته دوام ورکوي او په کابل ښار کې یې عملیاتي وړتیا ساتلې ده. د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې د ۹۳ هغو په پرتله، د راپور ورکولو د دورې په جریان کې ، ټولټال ۱۸۳ پیښې داعش ته منسوبې شوې. د کابل په ولایت کې د دوو او د ننګرهار په ولایت کې د ۴ پیښو په درلودلو سره، د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې د ۱۵ هغو په پرتله، داعش د راپور ورکولو د مودې په جریان کې د ۶ ځانمرګو بریدونو ادعا کړې. ټول ځانمرګي بریدونه د یو تن برید کونکي په کارولو سره چې په ځان پورې یې ځای پر ځای شوی چاودیدونکي توکي تړلي، ترسره شوي.

۲۵. د ډاروونې د دریو پیښو ، د جنايي اړوندو دوو پیښو ، او د یوې وسله والې نښتې په شمول : د راپور ورکولو د مودې په جریان کې اته پیښې ثبتې شوې په کومو کې چې د ملګرو ملتونو پرسونل ښکیل وو، خو د تښتونې کومه پیښه نه ده راپور شوې.

**ج. سیمه ییزه همکاري**

**۲۶.** د افغانستان او پاکستان ترمنځ دوو اړخیزو اړیکو د ښه والي نښې ښودلې. د جون په ۱۰ ، دواړو هیوادونو د سولې او پیوستون لپاره د افغانستان او پاکستان د عمل د پلان د لومړنۍ تخنیکي کچې د بیاکتنې ناسته ترسره کړه. د جون په ۲۷ او ۲۸ ، افغان ولسمشر پاکستان ته سفر وکړ ، چیرې چې هغه د لومړي وزیر ، عمران خان ، او د بهرنیو چارو له وزیر شاه محمود قریشي سره ولیدل. د لیدنې په جریان کې ، هغه هیله څرګنده کړه چې دواړه هیوادونه کولای شي له شخړې څخه د همکاریو لور ته حرکت وکړي. د پاکستان د لومړي وزیر دفتر یوه اعلامیه خپره کړې چې په کې یادونه شوې چې دواړو لوریو موافقه وکړه چې د ملګرتیا او همکارۍ یو نوی فصل پرانیزي. په عین وخت کې ، پاکستان د متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ د خبرو لپاره د ملاتړ د دوام ژمنه وکړه.

۲۷. افغانستان د څو اړخیزو غونډو له لارې د سیمې د هیوادونو سره خپلې ښکېلتیا ته دوام ورکړ. د جون په ۱۳ او ۱۴ ، افغان ولسمشر په بشکیک کې د شانګهای د همکارۍ د سازمان په غونډه کې ګډون وکړ ، په کومه کې چې هغه د سولې په اړه د سیمه ییزې اجماع پر اړتیا ټینګار وکړ او د علاقې وړ دوو اړخیزو مسلو په اړه یې د سیمه ییزې همکارۍ د پیاوړتیا لپاره یو شمیر میکانیزمونه مطرح کړل. د جون په ۲۵ ، په انقره کې د آسیا – زړه د استانبول د بهیر د لوړ پوړو چارواکو یوه غونډه ترسره شوه. غونډه د آسیا زړه استانبول بهیر د کاري چوکاټ لاندې د اعتماد جوړونې د اقداماتو په پلي کولو متمرکزه وه. د جوالی په ۲۲ ، یوه افغان پلاوي د ورته چوکاټ لاندې د تروریزم او مخدره توکو پروړاندې د مبارزې په ګډ سیمه ییز کنفرانس کې برخه واخیسته. برخه اخیستونکو د تروریزم پر وړاندې د هڅو د یوې برخې په توګه د مخدره توکو د غیرقانوني سوداګرۍ د مخنیوي لپاره د یوې سیمه ییزې ستراتیژۍ پر اړتیا ټینګار وکړ. د اګست په ۶ ، په کابل کې د قزاقستان ، قرغزستان ، تاجکستان ، ترکمنستان او ازبکستان سفیرانو یوه ګډه اعلامیه خپره کړه او د افغانانو په مشرۍ او مالکیت یې د

سولې د پروسې څخه په خپل ملاتړ تاکيد وکړ او ټينګار يې وکړ چې په افغانستان کې سوله او ثبات په ټوله سيمه کې د سولې او ثبات په معنی دی.

۲۸. د ګاونډيو هيوادونو تر منځ د اقتصادي اړيکو د پراخېدو د يوې نښې په توګه ، د افغانستان او ترکمنستان استازو د جون په ۱۷ په هرات ښار کې د سوداګرۍ او نښلون په اړه خبرې وکړې. د تورغونډۍ - هرات ريل پټلۍ پروژې په اړه د افغانستان او ترکمنستان د ريل پټلۍ د ادارې ترمنځ د تفاهم دوه يادداښتونه لاسليک شول. د جوالی په لومړۍ نيټه ، د ازبکستان لومړي وزير ، عبدالله اروپوف د بلخ په ولايت کې د افغانستان له اجرائيه رئيس سره وکتل. هيئت د ازبکستان او افغانستان ترمنځ د سرخان-پلخمري د بريښنا د مزي د پروژې په جوړولو موافقه وکړه. سوداګرۍ او اقتصادي همکاريو لپاره د افغانستان – ازبکستان د دولتونو تر منځ د کميسيون لومړۍ ناسته د جولای په ۱۷ په تاشکند کې جوړه شوه.

**درېيم: بشري حقونه**

۲۹. د جولای پر ۳۰، يوناما په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۹ کال شپږ مياشتني معلومات خپاره کړل. ماموريت د ۲۰۱۹ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې ۳۸۱۲ ملکي تلفات (۱۳۶۶ مړه او ۲۴۴۶ ټپيان) مستند کړي، چې د تير کال د ورته مودې په پرتله ۲۷ سلنه کموالی په ډاګه کوي. په ملکي تلفاتو کې دغه عمومي کموالی د دولت ضد عناصرو له خوا د ځانمرګو بريدونو او ځمکنيو نښتو له امله په دغه ډول تلفاتو کې د کمښت له امله رامنځ ته شوي، په داسې حال کې چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ترسره شويو هوايي او چاڼيزو عملياتو په پايله کې ولسي مرګ ژوبله مخ پر لوړې روانه ده. د ۲۰۱۹ کال د لومړۍ ربعې د جريان په دوام سره، زياتره دغه ملکي تلفات دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي، په داسې حال کې چې دولت پلوه ځواکونه د دولت ضد عناصرو په پرتله د زياتې ملکي مړينې مسوول وو. يوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۵۲ سلنه دولت ضد عناصرو (۳۳ سلنه طالبانو، ۱۱ سلنه د اسلامي دولت-خراسان ولايت ډلې او ۳ سلنه نا معلومو دولت ضد عناصرو) ته منسوب شوي، چې تر نيمايي زيات يې د هغو په خبر مستند شوي چې په عمدي ډول ولسي وګړي په نښه کوي. د ملکي تلفاتو کابو ۳۷ سلنه دولت پلوه ځواکونو (۱۸ سلنه افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو، ۱۲ سلنه نړيوالو پوځې ځواکونو او ۲ سلنه دولت پلوه وسله والو ډلو او پاتې نور يې نامعلومو دولت پلوه ځواکونو) ته منسوب شوي. پاتې نور ملکي تلفات هغو پېښو ته منسوب شوي چې د ډزو د تبادلې په ګډون دواړو دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي.

۳۰. يوناما د ځمکنيو نښتو په پايله کې د ۲۰۱۸ کال د لومړيو شپږو مياشتو په پرتله ۱۶ سلنه کم ملکي تلفات مستند کړي. بيا هم له دې سره سره، د ۲۰۱۹ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفات مخکښ لامل ګڼل کيده، چې د ټولو ملکي تلفاتو د يو پر درېيمې برخې لامل شوي. په ځانمرګو او غير ځانمرګو بريدونو کې د لاس جوړ چاوديدونکو وسيلو د کارونې له امله په ملکي تلفاتو کې له ۷۹ سلنه کموالي سره، په دغو بريدونو کې د لاس جوړ چاوديدونکو توکو کارونه د ټولو ملکي تلفاتو د ۲۸ سلنې لامل شوې. د هوايي عملياتو له امله د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ملکي تلفات ۳۹ سلنه لوړ شوي، چې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۴ سلنه جوړوي، په داسې حال کې چې د چاڼيزو عملياتو له امله ملکي تلفات ۷۹ سلنه لوړ شوي، چې د ټولو ملکي تلفاتو ۶ سلنه تشکيلوي. ښځې او ماشومانو لا اوس هم د جګړې اړوند تاوتريخوالي له امله په سخت ډول اغيزمن کيږي، چې د ټولو ملکي تلفاتو ۴۲ سلنه وړاندې کوي.

۳۱. د اپريل له ۱ نېټې څخه د جون تر ۳۰ پورې، په وسله واله جګړه کې د ماشومانو پر وړاندې د سختو سرغړونو په اړه د څارنې او ارزونې هيوادنې کاري ځواک اووه داسې پېښې تصديق کړې په کومو کې چې ښوونځي او د پوهنې اړوند پرسونل په نښه شوي. دا د تېرې ربعې پرمهال د ۱۸ تصديق شويو پيښو په پرتله يو ستر کموالی په ډاګه کوي. د دغو پيښو پنځه هغه يې طالبانو، يوه يې د اسلامي دولت- خراسان ولايت ډلې او يوه افغان ملي اردو ته منسوب شوي. درېو بريدونو په عمدي ډول ښوونځي په نښه کړي، يوه يې توپيره بريد دوه ښوونځي زيانمن کړي، يوه بل هغه يې ښوونځي ته تصادفي زيان اړولی، او په دوو پيښو کې د ښوونکو او زده کوونکو په ضد ګواښونه شامل وو.

۳۲.	نوموړي کاري ځواک د روغتونونو او خوندي شویو پرسونلو په ضد د تېرې ربعې د ۲۶ پېښو په پرتله ۱۲ پیښې تصدیق کړې. اته پېښې طالبانو او یوه یوه پېښه هر یوه افغان ملي پوځ، افغان ملي پولیسو، نړیوالو پوځي ځواکونو او یوې نا معلومې مخالفې وسله والې ډلې ته منسوب شوي. په درېو پیښو کې د روغتیا پالنې اړوند پرسونل په عمدي ډول تپي یا وژل شوي، په درېو پېښو کې تښتول شوي، په یوه پېښه کې یې پر وراندې بې توپېره برید ترسره شوی، په درېو پیښو کې تصادفي زیان ور اوښتی او په دوو کې ګواښل شوي. په ټوله کې، د دغو پېښو له امله  د روغتیا پالنې ۳۱ مرکزونه او د روغتیا پالنې ۲۰ پرسونل اغېزمن شوي.

۳۳.	نوموړي کاري ځواک په تېره ربعه کې د دوه پېښو په پرتله چې څلور ماشومان په کې ښکیل وو، د ماشومانو د ګمارنې او کارونې اته پېښې تصدیق کړې چې ۱۹ هلکان په کې شامل وو. له دغو پېښو شپږ یې طالبانو ته منسوب شوي چې ۱۷ هغه هلکان په کې شامل وو، چا چې د جنګیالیو رول درلوده. یوه پېښه افغان ملي پولیسو ته منسوب شوې چې د یوه هلک ګمارنه او کارونه په کې شامله دي. یو بل هلک د افغان سیمه ییزو پولیسو او د دولت پلوه ملیشو د قوماندانانو له خوا د جنسي اهدافو لپاره کارول شوی و. کاري ځواک دغه راز د تېرې ربعې د دوو پېښو په پرتله چې څلور هلکان په کې شامل وو، د طالبانو له خوا د تښتونو دوه پېښې تصدیق کړې چې دوه ماشومان په کې شامل وو، چې یو یې خوشې او بل یې ووژل شو. سربېره پر دې کاري ځواک په تېره ربعه کې د دوو پېښو په پرتله چې دوه هلکان په کې شامل وو، د جنسي تاوتریخوالي دوه پېښې تصدیق کړې چې د طالبانو له خوا په کې پر دوو نجونو جنسي تیری او د دولت پلوه ملیشې او د افغان سیمه ییزو پولیسو د قوماندانانو له خوا د جنسي اهدافو (بچه بازي) لپاره په کې د یوه هلک کارونه شامل دي.

۳۴.	دولت د ښځو د حقونو بسیجونه او ساتنه جاري ساتلې. د جون پر ۲۵، د ښځو چارو د وزارت حقوقي کمیټې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره د بیړنۍ مرستې په اړه د یوې مقررې د طرح بیا کتنه پیل کړه، چې موخه یې د مرستو د مدیریت لپاره د یوه شفاف میکانیزم د تاسیس په ګډون په ملي بودجه کې د دغه ډول مرستو لپاره د یوه تخصیص یقیني کول و. د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د ۲۰۰۹ کال د قانون بیا کتنه د ښځو چارو د وزارت په مشرۍ د یوې تخنیکي کمیټې له خوا ترسره شوه. د افغانستان لپاره د عدلي سکتور د ملاتړ پروګرام په مرسته، چې د امریکا د متحده ایالاتو د دولت له خوا یې ملاتړ کیږي، د ښځو چارو وزارت له ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۱۷ پورې مودې لپاره د ښځو، سولې او امنیت په اړه د عمل د ملي پلان د تطبیق ارزونه ترسره او کابینې ته وړاندې کړه.

۳۵.	دولت دغه راز د جنسي ناوړه ګټه اخیستنې او ځورونې لپاره له معافیت سره د مبارزې لپاره ګامونه پورته کړي. د جولای پر ۱۱، د افغان ښځینه فوټبالرانو د جنسي ځورونې ادعا شوې قضیه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون له احکامو سره سم محاکمو ته راجع شوه. د افغانستان د فوټبال فدراسیون پخوانی رییس او پنځه تنه نور کسان په جنسي تیري، جنسي ځورونې، له واک څخه په ناوړه ګټې اخیستنې او د جرم په پټولو تورن شوي؛ ټول تورن اشخاص تښتیدلي. د جولائ پر ۱۷، د هغو ادارو ترمنځ چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په له منځه وړلو کې دخیلې دي، د همغږۍ په اړه په یوه څلور ورځني ملي کنفرانس کې، لوی څارنوال په کار ځای کې د ښځو په وړاندې له ځورونې سره د مبارزې د یوه ځانګړي ډیپارټمنت تاسیس اعلان کړ. د جولائ پر ۲۵، ولسمشر د افغانستان د بشري حقونو په خپلواک کمیسیون کې د یوه ځانګړي سکرتریت د تاسیس فرمان صادر کړ، څو په دولتي ادارو کې د ښځو د ځورونې وروستي تورونه وڅېړي.

۳۶.	د افغانستان د نړیوالي دورې د بیاکتنې د دریمې دورې په اړه ملی راپور (A/HRC/WG.6/32/AFG/1) د کاری ډلی لخوا د ۲۰۱۹ کال د جنوری په میاشت کی د بشري حقونو د شورا د نړیوالې دوره یی بیاکتنې باندې غور وشو. . یادی کاری ډلی خپل د پایلو په راپور (A/HRC/41/5)کی، ۲۵۸  وړاندیزونه وړاندی کړل.  د امنیت شورا د جولای د میاشتې په یوځلویشتمه ناسته کې ، د افغانستان د حکومت لخوا د یادو سپارښتنونه له جملې څخه ټولټال  ۲۳۵ سپارښتنې ومنل شوې ، او ۲۲ سپارښتنې یی یاددښت کړې او یوه سپارښتنه یی په قسمي توګه ومنله. یاددښت شوي سپارښتنې د اعدام د جزا د درولو یا لغو کولو او د بشری حقونو معاهدې یا نورې معاهدو ته الحاق چی افغانستان یی عضویت نلري، په هغو پورې تړاو لري.

۳۷.	د جولای د میاشتې په ۱۷ نیټه، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون لپاره د جمهور رییس لخوا نهه تنه نوي کمیشنران وټاکل شول چې د رئیسې شهرزاد اکبر په ګډون څلور هغه یې ښځې دي. ښاغلی سیما ثمر چې د کمیسیون د تاسیس څخه را پدیخوا د یاد کمیسیون د رئیسې په توګه پاتې شوې وه، په بشري حقونو او نړیوالو اړیکو کی د جمهور رئیس خاصه استازې او د دولت وزیره وټاکل شوه. په یوه بیانیه کې چې د جولای په ۱۹ نیټه خپره شوه، د مدني ټولنې ګډ کاري ګروپ د نویو کمیشنرانو د انتخاب په بهیر کې د ملی بنسټونو د حالت د اصولو (د پاریس اصول) د نه سمون په خاطر، اعتراض وکړ.

۳۸.	د خبریالانو او رسنیو د کارکوونکو پر وړاندې د جګړې اړوند تاوتریخوالی دوام لري. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې، د یوناما لخوا پنځه پیښې مستندې شوې چې په ترڅ کې یې دوه ښځینه ژورنالیستانې ټپیانې او د یوې ښځې په شمول درې نور ژورنالیستان ګواښل شوي او همدارنګه یوه رادیویی او یوه تلویزیونی شبکه تر ګواښ لاندې راغلې. ددې ترڅنګ، د مدني ټولنې څلور فعالان، د دریو ښځو په شمول د خپلو بشري حقونو د فعالیتونو له امله ګواښ شوی دې. دغه ټولې پیښې طالبانو ته منسوب شوي دي. د جون د میاشتې پر ۲۴ نیټه، طالبانو یوه اعلامیه خپره کړه چې په ترڅ کې یې رسنې ګواښلې چې د حکومت په مالی مرسته جهاد ضد تبلیغات ودروي، که نه نو هغوی به یوځی اهداف وګڼل شي. د حکومت او رسنیو ګډې کمیټې په ۲۶ مه ناسته کې چې ریاست یې د جمهور رئیس د دویم مرستیال ښاغلي سرور دانش په غاړه و، خبریالان او رسنیز بنسټونه وهڅول شول تر څو خپلو عادی فعالیتونو ته دوام ورکړي او همدارنګه د امنیتي تدابیرو د زیاتیدو وعده یې هم وکړه. د راپور ورکولو د مودې په جریان کی، د یوناما لخوا د بشری حقونو د ترویج، د جګړې د مخنیوې، معلوماتو ته د لاسرسي او د بیان د آزادي په هکه اته ناستي ترسره شوې چې د ۱۵۰ ښځو په ګډون ۵۲۸ تنو پکی ګډون کړي وه.

**څلورم. د پراختیايي مرستو همغږي**

۳۹.	د جولای د میاشتې په ۲۲مه نیټه، د افغانستان حکومت او ملګرو ملتونو د همغږۍ او ارزونې د ګډ بورډ ۲۲ ګډه غونډه دایره کړه چې مشري یې په ګډه د مالیې د سرپرست وزیر ښاغلي محمد همایون قیومي او زما د ځانګړي استازي له خوا ترسره شو. یاده ناسته په دریو مجلسونو وویشل شوه. په لومړني مجلس کی چې د جینوا د حساب ورکونې د دوه اړخیزه چوکاټ په هکله و، بحثونو د اداري فساد پر ضد د شاخصونو او د حسابورکونې د نورو معیارونو پر پرمختګ تمرکز درلود. د ورټیا پر بنسټ د ملکي خدمتونو د استخدام او اطلاعاتو ته د لاسرسي د کمیسیون د جوړولو په شمول، تمویل کوونکو د اصلاحاتو په برخه د څه نا څه پرمختګ یادونه کړې، خو د د لوړ پوړو چارواکو په واسطه د اداري فساد لپاره د معافیت سره د مبارزې او د اداري فساد د شاخصونو پر وړاندې د پرمختللو راپور ورکولو لپاره د لا زیاتو هڅو غوښتنه کړې. حکومت راپور ورکړ چې ۲۰۱۸ کال په وروستیو کې د ۲۰۱۷ کال د اداری فساد پر ضد د خپلې ستراتیژی د نوې کلو له لارې یې د چوکاټ یوه موخه په رسمي توګه ترلاسه کړې. د ستراتیژي لپاره زمانی موده یوازې د ۲۰۱۹ کال تر ډسمبر پورې موده رانغاړي او هغه میکانیزم چې پر اساس یې تعقیبي ستراتیژي جوړه شی، لا نه ده فعاله شوې. د اداری فساد پر وړاندی د مبارزی د قانون د پلي کولو په برخه کې ځنډونو، په تیره بیا د اداری فساد پر وړاندې د کمیسیون د تاسیس په برخه کې ځنډونو همدارنګه د اداری فساد پر وړاندې ټول اصلاحات له ځنډ سره مخ کړې.

۴۰.	د ودی، پرمختیا او سولی په هکله په دویمه ناسته کی، حکومت د اقتصادي محرکونو لپاره خپل پلانونه وړاندې کړل ، چې په کړنې ، ښاري پلان جوړونې او د بریښنا په زیربنا باندې تمرکز کوي. مرستندویه هیوادونو په مرستو باندې د هیواد د اتکا د کمولو او د غیر قانوني اقتصاد سره د مبارزې پر اړتیا ټینګار وکړ. د مرستو د همغږۍ د ښه کولو په اړه په تاکیید سره، د سکتوري همغږۍ په هکله د دریمي ناستې تمرکز په معارف او روغتیا سکټورونو باندې و. د ناستې په پای کې، نړیوالې ټولنې او حکومت د یوې ګډې ارزونې په ترسره کوولو موافقه وکړه ترڅو د جینوا حساب ورکونی د دوه اړخیز چوکات لپاره د راپور ورکونې لا پیاوړې میکانیزمونه را منځ ته کړي.

۴۱.	حکومت په سیمه ییزه کچه د محلي حکومتولۍ د خپلې پالیسۍ تطبیق ته دوام ورکړ. د جون د میاشتې په لسمه نیټه، ولسمشر تر خپل مشرتابه لاندې د ولسوالانو عالي شورا تاسیس کړه ترڅو داډ ترلاسه شي چې په

سیمه ییزه پراختیا کی ولسوالۍ زیات مسئولیت پر غاړه واخلي. د جولای د میاشتې تر ۲۴ نیټې پورې، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې د محلي شوراګانو قانون چې د ۲۰۱۹ کال د مارچ په ۵ نیټه تصویب شوی و، سیمه ییزو ارګانونو او مدنې ټولنو ته په ۵ ولایتونو کې معرفي کړ او د یاد قانون په هکله يې پوهاوی لوړ او د یاد قانون د تطبیق په موخه يې لارښوونه وکړه. د جولای د میاشتې په ۲۸ نیټه، یادې ادارې د مدنې ټولنې د بنسټونو سره یو تفاهم لیک لاسلیک کړ چې موخه یې په سیمه ییزه کچه د حکومتولۍ او پراختیایي همکارۍ زیاتوالی او تقویت ښودل شوی ده.

۴۲. د ملکی خدمتونو د اصلاحاتو په برخه کې هم پرمختګ شوی وو. د جون د میاشتې په ۲۰ نیټه، د اداري اصلاحاتو او ملکی خدمتونو خپلواک کمیسیون راپور ورکړ چې په ۲۰۱۸ کال کې په مرکز او ولایتونو کې د اصلاحاتو د پیل راهیسې د لیک لوست د ټولټال ۱۱۵۰۰ دندو او ټولټال ۶۵۰۰ ملکي خدمتونو د کارکوونکی د شمولیت د کچې د دندو لپاره د ورتیا پر بنسټ په بریالیتوب سره د استخدام د پروسې د پای ته رسیدو راپور ورکړ. ددې تر سربیره، ټولټال ۵۵ ولسوالانو او د اړوندو ریاستونو ولایتي رییسانو د افغانستان د ملکي خدمتونو د انستیتیوت د د دوو اونیو لپاره د مشرتابه نوی پروګرام، چې د جون په ۲۲ معرفي شو، پای ته ورساوه چې موخه یې په محلي کچه د لوړ رتبه ملکي کارکونکو روزل دي.

۴۳. د راپور ورکولو په موده کې، د اداری فساد پر وړاندی د مبارزې عدلي او قضایي مرکز یو نزولي مسیر درلود. د جون او جولای په میاشتو کی، د یاد مرکز ابتدائیی محکمې دوو قضیو ته رسیدګی وکړه، یعني په یوه میاشت کې یې یوه قضیه استعماع کړې، یادو دوو قضیو ۶ مدعې علیه درلودل چې په پایله کی یې یوه مدعي علیه برائت ترلاسه کړ او ۵ نور یې په حبس محکوم شول. همدارنګه، نوموړې محکمې قضائي قرارونه هم صادر کړل چې په ترڅ کې یې دې محکمه ومنله چې دوو قضیو ته رسیدګې یې خپل قضائي صلاحیت وګانه. یادی دوه قضیې د ۲۰۱۸ کال د پارلماني ټاکنو په اړه وي. د یاد مرکز د استیناف محکمې یوه قضیه واروله، هغه قضیه چې د یوه پخواني مرستیال وزیر لخوا د محکمې د محکومیت د حکم په اړه وه او د ابتدایي محکمې د دری کلن حبس د حکم په اړه اعتراض کړې و. د عدلي او قضایي سکتور د مقاماتو امنیت د یوې اندیښنې په توګه پاته و. د جولای په ۶ نیټه، د یاد مرکز یو تن څارنوال چې کله له کور څخه دندې ته پر لار و، په ډزو ووژل شو. یوه اداري کارکوونکي چې یو ځای یې د نوموړي څارنوال سره سفر کاوه، د ډزو په ترڅ کی ټپي شو. د ګرفتاري د ټولټال ۱۲۷ قرارونو او د جلب د ټولټال ۱۲۸ حکمونو څخه یوازې ۷۱ قرارونه ( ۲۲ یی د افغانستان څخه بهر) او د جلب ۸۲ حکمونه (۵ یی د افغانستان څخه بهر) لا هم تر اوسه نه دي اجرا شوی. په داسی حال کی چی یو شخص چې په یاد لست کی موجود و، په حبس محکوم شو او دوو نورو په نهائی حکم کی برائت واخیست. د ۲۰۱۹ کال تر اګست میاشتې پورې، یاد مرکز د تاسس د نیټی (۲۰۱۶) څخه را پدی خوا ، په مجموعي توګه ۵۹ قضیې چی ۲۲۹ مدعی علیه یې درلودل محاکمه کړې دی چی په ترڅ کی یی ۱۸۳ تنه محکوم او ۴۴ برائت اخیستی.

۴۴. د افغانستان اقتصاد د پام وړ ننګونو سره مخ دی. د جولای په ۲۱ نیټه، نړیوال بانک د افغانستان د انکشاف په اړه خپل شپږ میاشتنی راپور خپور کړ په کوم کې چې د افغانستان د داخلي ناخالص تولید کلنۍ وده په ۲۰۱۸ کال کې ۱.۸سلنه ښودل شوې. بانک په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو کې د وچکالي له امله په زراعتي محصولاتو کې د کمښت تنزل او کموالی او همدارنګه د رواني شخړې له امله په سوداګرۍ د باور خرابولو ، د ټاکنو له امله د سیاسي بې ثباتي زیاتیدلو او د سولی په بهیر کې بې باورې ته منسوب کړې. ، په ځانګړې توګه په کلیوالي ساحو کې، بانک راپور ورکړی چې په ۲۰۱۸ کال کې د سرانه عاید د کمیدلو له امله د اټکل له مخې نیستې زیاته شوې. همدارنګه یاد بانک یادونه کړی چې د مالي چارو مدیریت پیاوړی شوی چی په ترڅ کې یې په ټوله کې ۰.۷ سلنه اضافي ارزښت په ۲۰۱۸ کال کې راغلی او د بودیجې تطبیق بهتره شوی چی کچه یې تر ۹۲ سلنو رسیدلې په داسی حال کی چی په ۲۰۱۷ کال کې د بودیجې تطبیق ۸۳ فیصده و.

**پنځم. بشري مرستې**

۴۵. اوږده شخړه لا هم شدید فزیکي او رواني زیان اړوي او د پراخې بې ځایه کیدنې سبب کیږي، چی دا وضعیت د بی ثباتي، وچکالي، ناڅاپي طبیعي ناورینونو، د خواړو د نه خوندیتوب او فقر له امله لا نور هم پیچلی کیږي. د دغو فکتورونو له امله د پام وړ شمیر خلک خوځښت ته اړ شوې دي. د اپریل د میاشتې له ۱۶ څخه

د جولای تر ۲۹ نیټې پورې، ۴۸۰۰۰ وګړي بېځایه شوې دي چې د ۲۰۱۹ کال له پیل راهیسې په مجموعي توګه د داخلي خلکو شمیر ۲۰۶۰۰۰ تنو ته رسیدلی چې په هغو کې تر نمیایې زیات (۵۸ سلنه) یې هغه ماشومان دی چې عمرونه یې تر ۱۸ کالو کم دي، شامل دي. د ۲۰۱۸ کال سره په پرتله، په ۲۰۱۹ کال په ورته موده کې د جګړې د اړوندو بېځایه شویو خلکو په شمیر کې ۲ سلنه زیاتوالی راغلی ده او زیاتره بېځایه شوې کورنۍ په نږدې راتلونکې کې خپلو ساحو ته د بیرته ستنیدنې امید نه لري. هغه داخلي بېځایه شوې خلک کوم چې په موقتي ځایونو کې ژوند کوي له سختو شرایطو، لکه د بشري ابتدایي مرستو څخه جلا د ابتدایي اساسي خدمتونو نه شتون، سره مخ دي.

۴۶. د حکومتی ځواکونو او حکومت ضد عناصرو تر منځ د جګړې له امله، ټولټال ۲۸۹۸۲ کسان په تخار ولایت کې د بهارک، نمک آب او اشکمش د ولسوالیو څخه د تخار ولایت مرکز تالقانو ښار ته کډه شوې دي. حکومتي او د بشري مرستو ارګانونو زیانمنو کورنیو ته عاجلې مرستې، لکه سرپناه او ضروري بشری توکې، برابر کړې دي.

۴۷. د بېځایه شویو وګړو لپاره د وچکالی د بشري مرستو لړۍ د جون په میاشت کې پای ته ورسیده چې په ترڅ کې یې ټولټال ۲.۵ میلیونو خلکو ته خواړه، کرنیز محصولات او د بشري مرستو نور ډولونه، برابر شوې. په هر صورت، کابو ۱۰۰۰۰۰ ته خلکو کوم چې په ۲۰۱۸ کال کې د وچکالی له امله ښاري مرکزونو، لکه هرات او بادغیس ته کډه شوې، چې اوس په یوه اوږده بېځایه شوي حالت کې ژوند کوي. د فصل په پیل کې د جون څخه تر مې میاشتو پورې زرګونه کورنۍ د سیلابونو له امله اغیزمنې شوې.

۴۸. په افغانستان کې د تغذيي وروستی سروې ښيي چې د راپور ورکونې په جریان کې، د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه په ۲۲ ولایتونو کې د شدیدې خوارځواکۍ کچه د عاجلې کچې څخه پورته ده. د مې د میاشتې د ۱۶ نیټې څخه راهیسی، ملګري ملتونو او شریکانو یې کابو ۳۶۲ تنه خوارځواکۍ اختصاصي خواړه صحي مرکزونو ته په ټول هیواد کې لیږلي چې په ترڅ کې یې ۹۹۰۰۰ ماشومان چې عمرونه یې د ۵ کالو څخه کم وو او ۴۶۷۰۰ امینواره ښځې او شیدې ورکوونکې میندي چې د شدیدې او حادې خوارځواکۍ څخه رنځ وړ، د خوارځواکۍ د یادو اختصاصي خواړو څخه برخمن شول.

۴۹. د دوبي د میاشتو په اوږدو کې، تمه کیږي چې روان زراعتي حاصلات به د تغذيي وضع ښه کړي، که څه هم چې د خوراکي توکو د نه مصونیت شدیدې او حاد ستونزې به د هیواد په ډیری برخو کې دوام ومومي. تمه کیږي اوسط یا له اوسط څخه زیات اورښت، ښه څړځایونه او په ۲۰۱۹ کال کې د غنمو ښه حاصل به د یو شمیر کورنیو لپاره د خوړو په مصونیت ښه اغیزه ولري. د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې او همداراز د څارویو د خرڅلاو د نرخونو په برخه کې د لږ زیاتوالي په پرتله، وروستیو ارزونو د حاصلاتو په برخه کې ۴۰ سلنه زیاتوالی ښودلی. په هر صورت، د محصلولاتو د آفتونو ، ناروغیو او د حاصلاتو د مودې نه وروسته زیانونو او د وروستیو سیلابونو اغیز لاهم معلوم نه دي.

۵۰. پداسې حال کې چې د ایران د اسلمي جمهوریت او پاکستان څخه د غیر راجسټر شویو افغانانو راستنیدنه د ۲۰۱۸ کال په پرتله د یو پر دریمې برخې څخه زیاته کمه شوې ، له ترکیې څخه د راستنیدونکو افغانانو شمیر ډیر شوی. د ۲۰۱۹ کال د اپریل د ۱۶ څخه د جولای د ۲۰ نیټو تر منځ، پورې، د ایران د اسلامي جمهوریت څخه د ټولټال ۱۰۹۵۴۳ نا ثبت شوې کسانو په شمول (چې د هغو له جملې څخه ټولټال ۴۵۹۹۵ هغه یې په ناځاپي توګه ستانه شوي او ټولټال ۶۱۴ هغه یې په زوره شړل شوي) له پاکستان څخه د ټولټال ۴۷۳۷ له جملې څخه (ټولټال ۴۱۲۳ هغه په اجباري توګه او۶۱۴ هغه په زوره شړل شوې ) او د اروپائي هیوادونو او ترکیې څخه (ټولټال ۳۷۲ یې په خپله خوښه ستانه شوي او ۱۱۵۲ تنه په زور ایستل شوي، په شمول د ۸۹۳ چې د ترکیې د هیواد څخه په زوره ایستل شوي). د ورته مودې په جریان کې ، ټولټال ۴۰۸۱ تنه راجستر شوی پناه غوښتونکې بیرته هیواد ته راستانه شوي چې په دې که اکثریت هغه یې له ایران او پاکستان څخه دي. افغانستان ته د راجستر شویو پناه غوښتوونکو د بیرته راتګ شمیر ۵۸ سلنه و چې د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله کم و. په پاکستان کې، بې اسنادو افغانانو ته د افغانستان د تابعیت کارتونو توزیـع دوام لري. د جولای تر ۴مې نیټې پورې، ټولټال ۵۴۵۱۱ افغانانو د ټولټال ۸۷۹۰۰۰ بې اسنادو افغانان له جملی څخه کارتونه تر لاسه کړي وو چې د راجسټر

کولو لپاره یې نوم لیکنه کړې وه. ددامې کارتونو لرونکې د ۲۰۱۹ کال د اکتوبر تر ۳۱ مې نیټې پورې په پاکستان کې د پاتې کیدو اجازه لري. د دغې مودې د تمدید مساله اوس هم تر بحث لاندې ده.

۵۱. شخړه د ټروما/روحي ټکان د خدمتونو لپاره په دوامداره توګه د لوړې کچې تقاضا را منځ ته کوي. د مې له ۱۶ څخه د اګست تر ۱۶پورې ، د ټروما ټولټال ۲۴۲۳۲ پېښې تر معالجه لاندې نیولې شوې، چې دا د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ۱۲ سلنه ډیروالی ښيي. د ټروما لپاره مواظبت ته په خاص ډول په ننګرهار ، کندهار ، هلمند، زابل او غزنی ولایتونو کې ډیره اړتیا وه ، چیرې چې د نښتو په پایله کې زیات تلفات را منځ ته شول او روغتیایي پاملرنې ته لاسرسی کم شوی. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې ، د روغتیا د کلسټر څخه ۱۵ همکارانو کابو ۴۸۹۲۳ خلکو ته مشورې برابرې کړې ، چې د هغه له حملې څخه ۶۱ سلنه یې ښځې او نجونې وې.

۵۲. د ۲۰۱۹ کال په لومړی نیمایي کې د ګوزڼ ټولې ۱۲ قضیې، په کندهار کې ۲، په هلمند کې ۵، په ارزګان کې ۴ او په کونړ کې ۱ پیښه راپور شوې . په سولې حوزه کې د طالبانو لخوا د پولیو د واکسین پر ټولو فعالیتونو د بندیز له امله په هیواد کې د پولیو د دوامداره لیږد لپاره د لومړنی ننګونې په څیر په ځای پاتې ده، او په تیره بیا د ۱۲ هغو له جملې څخه د پولیو ۱۱ پیښې له هغو سیمو څخه راپور شوې چې د بندیز له امله متاثره شوې. د بندیز په رڼا کې، د نفوسو د معافیت د ساتلو لپاره یو بیړنی پلان پلې شوی، د بیلګې په توګه، له سایټ څخه ټر سایټ بورې واکسین کولو په شمول، د دایمي لیږد د ټیمونو لخوا د نه لاسرسي وړ سمیو په شاخوا کې د یوی محافظتي شبکې رامنځ ته کول، د شرې واکسینونو د کمپاینونو پر مهال دګوزڼ د واکسین شاملول او د نه لاسرسي وړ سیمو کې د روزمره ومعافیت په پیاوړتیا تمرکز. د واکسین تکمیلي فعالیتونه، د بیلګې په توګه، د لیږد دایمي ټیمونه او د پولی دواړو غاړو په اوړدو کې د مسافرینو واکسین کول ، په میاشت کی تر ۱ میلیون زیاتو ماشومانو ته د واکسین دوام.

۵۳. د ۲۰۱۹ کال د مې له میاشتې څخه تر اګست میاشتې پورې، ملګرو ملتونو او ملګرو یې ۴.۷ کیلومتره مربع ځمکه چې په لوړ تاثیر لرونکو چاودیدونکو توکو ککړه شوې وه، پاکه کړه چې ۳۴ ټولنو ته ګټه رسوي. د ایران د اسلامي جمهوریت او پاکستان څخه د راستنیدونکو د خوندیتوب اندیښنو ته په ځواب کې، په افغانستان کې شاوخوا ۱۱۴۷۲۹ کسان د ملګرو ملتونو په مالي تمویل د راپور ورکولو په جریان کی د خطر په اړه تعلیم تر لاسه کړ.

۵۴. د ۲۰۱۹ کال په لومړیو ۶ میاشتو کې، د دولت ضد عناصرو لخوا د قرباني شخص په واسطه د فعالیدونکو فشاري په لاس جوړ د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د دوامداره بې توپیره او ناقانونه کاروني له امله د ۲۰۱۹ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ټولټال ۲۰۵ ملکي تلفات (۵۸ مړینې او ۱۴۷ ژوبلې) اړولې. دا ډول وسایل همدارنګه په افغانستان کې د ماین پاکې د پروګرام د تلفاتو ۵۰ سلنو ته نږدې برخه جوړوي.

۵۵. پراخه نا امنې، په ماینونو ککړې او ستونزمنې سیمې د بشردوستانه لاسرسي او د بشرپالنې د کارکونکو خوندیتوب ته په دوامداره توګه ننګونې پیښوي. د جنوري له ۱ څخه د اګست تر ۸ پورې ، ۲۴ مرستندویه کارګران وژل شوي، ۲۹ ټپیان شوي او ۳۰ تښتول شوي، پداسې حال کې چې په ۲۰۱۸ کې ۲۷ وژل شوي، ۵۵ ټپیان شوي او ۸۷ تښتول شوي. په مجموع کې، د ۲۰۱۹ کال په لومړیو اوو میاشتو کې ۲۸۸ پیښې د مرستندویه کارمندانو، شتمنیو او فعالیتونو پر وړاندی ترسره شوي دي. په ټوله ۲۰۱۸ کې، دا ډول ۳۸۲ پیښو صورت موندلی. په روغتیایي تاسیساتو او روغتیایي کارکونکو باندې قصدي بریدونه دوام لری، چی کارمندانو ته یی مرګ ژوبله اړولې او روغتیایي تاسیسات په جبري توګه تړل شوي دي.

۵۶. د ۲۰۱۸-۲۰۲۱ کلونو لپاره د بشردوستانه غبرګون په پلان کې، په ۲۰۱۹ کال کی، ۶.۳ میلیونه خلک بشري مرستو ته اړتیا لرونکي پیژندل شوي، او د کال په جریان کې د ۴.۵ میلیونه خلکو د مرستې لپاره د نږدې ۶۱۲ میلیون ډالرو غوښتنه شوې. د مالي خدماتو د تعقیب پر اساس، د ۲۰۱۹ کال د جولای تر ۲۹ نیټې پورې کابو ۱۶۳.۳ میلیون ډالره یا په ۲۰۱۹ کال کی د بشردوستانه غبرګون لپاره د ټول تمویل ۲۶.۷ سلنه، بشري مالي مرستې ترلاسه شوې. د تمویل د کموالي سره سره، بشردوستانه شریکبانې وتوانیدل چې د مارچ په پای کې ۲.۷ میلیون ډالره د خلکو سره مرسته وکړي.

### شپږم: له نشه يي توکو سره مبارزه

۵۷. د جولای په ۲۹، ملګرو ملتونو د افغانستان د احصایې او طلاعاتو له ملي اداري سره په همکارۍ د ۲۰۱۸ کال د افغانستان د ترياکو سروي دويمه برخه ، د "د دوامداره پرمختګ، سولې او امنيت ته ننګونې" تر سرليک لاندې، خپره کړه. ياد راپور د کوکنارو د کښت موقعيت او کچې، د ترياکو د احتمالي توليد او په کليوالي سيمو کې ټولنيز -اقتصادي وضعيت په اړه مفصل معلومات وړاندي کوي. د ۲۰۱۷ کال د ريکارډ لوړې کچې څخه د ترياکو په کښت او توليد کې ژور کمښت او وروسته د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو په مرطوب فصل کې د باران او واورې د دوامداره کموالي او د هغو په پايله کې وچکالۍ د کرنې په سکتور خورا ناوړه اغيز وکړ، چې د راپورونو له مخې په قوي توګه د اغيزمن شويو کليوالي سيمو عايدات يې نيمايي ته راټيټ کړل. د ترياکو د کښت او توليد کميدل د دې لامل شو چې د کروندې پر سر په ترلاسه شويو پيسو کې ۵۶ سلنه، يعني په ۲۰۱۷ کال کې د ۱.۴ ميليارد ډالرو څخه په ۲۰۱۸ کې ۶۰۴ ميليون ډالرو ته کمښت رامنځ ته شي. د کروندې پر سر عايد ناقانونه ماليه وضع کولو کې شاوخوا ۲۹ ميليون ډالر تر لاسه شوی و، چې له هغه څخه شاوخوا ۲۱ ميليون ډالر د دولت ضد عناصرو ، په شمول د طالبانو، لخوا راټول شوي. په راپور کې دا هم اټکل شوی و چې په افغانستان کې د ترياکو د اقتصاد ناخالص ارزښت د ۱.۲ او ۲.۲ ميليون ډالرو ترمنځ وو، چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله د ۲۷سلنې څخه تر ۵۱ سلنې ټيټوالی ښيي، خو بيا هم د داخلي ناخالصو توليداتو د ۶ او ۱۱ سلنې ترمنځ و.

۵۸. د جون د ۱ او د جولای د ۳۰ تر منځ، د قانون پلي کونکو افغان چارواکو د مخدره توکو پر وړاندې ۷۷۳ عمليات ترسره کړي ، چې په پايله کې يې ۶۰۰کيلوګرامه هيرويين، ۵۰۰۰ کيلو ګرامه مورفين ، ۲۳۱۳۰ کيلوګرامه ترياک، ۴۰۴۰ کيلو ګرامه چرس، ۳۰۰ کيلو ګرامه ميتامفيتامين او ۱۳۹۰۰ د ۳-۴ ډوله ميتالينيدي اوکسي ميتامفيتامين ټابليټونه، ۱۱۱۵۰۰ کيلو ګرامه کيمياوي پريکرسرونه، ۷۵۲۵۰ ليتره مايع کيمياوي پريکرسرونه، ۷۲۴۲۰ کيلو ګرامه د کوکناور تخم، او ۳۵۸۰ کيلو ګرامه هينبين ، نيولي دي. په مجموع کې ، ۵۶ لابراتوارونه (۵۵ د هيروئينو او ۱ د ميتامفيتامين لابراتوار) له منځه وړل شوي او د نشه يي توکو ۴ زيرمتونونه وران شوي. د يادو عملياتو په ترځ کې ۸۷۹ تنه شکمن کسان نيول شوي او ۱۲۰ نقليه وسيلې، ۶۱ وسلې او ۴ ګرځنده تليفونونه ضبط شوي. ددی عملياتو په ترځ کې د افغان ملی دفاعي او امنيتي ځواکونو ۷ غړی وژل شوي او ۸ نور ټپيان شوي دي.

### اوم. د ماموريت ملاتړ

۵۹. لکه څنګه چې د جولای په ۱۵، په يوناما کې د دندو د تشې کچه د نړيوالو کارمندانو لپاره ۶ سلنه ، د داخلي مسلکي کارمندانو لپاره ۴ سلنه او د داخلي کارمندانو لپاره ۳ سلنه وه، پداسې حال کې چې د 2017 کال په پرتله تصويب شوې کچه په ترتيب سره ۷ سلنه، ۵ سلنه او ۳ سلنه وه. د ښځينه کارمندانو تناسب ټيټ پاته و، د نړيوالو کارمندانو لپاره ۳۵ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره ۴۱ سلنه، د داخلي مسلکي کارمندانو لپاره ۱۳ سلنه او د داخلي کارمندانو لپاره ۸ سلنه و. د راپور ورکولو د دورې په جريان کې، ماموريت خپل د ملګرو ملتونو د داوطلب رضاکار ملي پروګرام پلی کولو ته دوام ورکړ، چې هدف يې د کارمندانو پوستونو ته د راتلونکي احتمالي ګمارنې لپاره د وړ ښځينه نوماندانو د فهرست رامنځ ته کول دي. د ۲۰۱۹ تر پروګرام لاندې په مجموعي ډول ۳۰ ميرمنې وګمارل شوې. د مې د ۱ او جولای تر ۱ نيټې پورې، يوناما ۱۱۱ ځمکني او ۱۴ هوايي ماموريتونه ترسره کړي او همدارنګه د لاسرسي ۵۷۹ معکوس ماموريتونه تر سره کړي، په دې موده کې د ولسوالۍ استازو د يوناما دساحوي دفترونو څخه ليدنه کړی.

### اتم.ملاحظات

۶۰. په راتلونکو مياشتو کې به د افغانستان اوسيدونکي له ژورو انتخابونو سره مخ شي، کوم چې کولای شي د راتلونکو کلونو لپاره د هيواد راتلونکې وټاکي. د ولسمشرۍ د ټاکنو ګټونکي به د ثبات او ځان بسيايني په لور د راتلونکې پړاو په اوږدو کې د هيواد د رهبري کولو لوی مسئوليت او له ټولو نه مهم، د ويجاړونکي شخړې د پای ته رسولو لپاره د خبرو اترو د تعقيب مسئوليت په غاړه واخلي. د دې مسئوليتونو د ترسره کولو لپاره، د افغانستان حکومت ته بايد د افغانستان د خلکو د مسئول او استازي په توګه وکتل شي.

۶۱. ټاکنې په افغانستان کې د سیاسي مشروعیت ورکولو تر ټولو پراخه منل شوی وسیلې ګڼل کیږي. د دې لپاره چې ډاډ تر لاسه شي چې پایلې د خلکو لخوا ومنل شي، ټاکنې د ټولو ښکیلو اړخونو مسئولانه ګډون ته اړتیا لري. د انتخاباتو سیالۍ باید په برابره ټوګه تر سره شي، پرته لدې چې د کوم خاص نوماند ملاتړ وشي. د ښاغلي غني او ښاغلي عبدالله د ژمنتیا چې عادلانه ټاکنې ترسره کوي او په دې حواله د دولت له خوا د هغو ګامونو هرکلی کیږي چې موخه یې د ټاکنیزو سیالیو څخه د دولتي دندو جلا کول دي. په عین وخت کې، د دولتي سرچینو څخه د ناوړې ګټې اخیستنې تورونه او د انتخاباتي مدیریت د ادارو په کارونو کې لاسوهنې د اندیښنې وړ دي. ټول ښکیل اړخونه، د نوماندانو او د هغوی د ملاتړیو په شمول باید د ټاکنو اړوند ټول قوانین او مقررات مراعات کړي، د نوماندانو لپاره د چلند په اصولو کې شوې ژمنې په پام کې ونیسي او په داسې طریقه عمل وکړي چې د ټاکنو پر پروسه او پایلو یې اعتماد او باور لا زیات کړي.

۶۲. زه له ټولو ملي مشرانو او نوماندانو څخه خوښتنه کوم چې د درغلیو د نه هڅولو په برخه کې له ځانه رهبري وښيي او د مخنیوي لپاره یې جدي اقدام وکړي. هغه څوک چې د درغلیو هڅه کوي یا یې کوي باید ورسره حساب وشي. په هرصورت، زه په مشرانو غږ کوم چې د کافي شواهدو پرته د تقلب او جعلي تورونو جوړولو څخه ډډه وکړي. زه له ټولو ښکیلو اړخونو څخه غوښتنه کوم چې د تقلب او بې نظمیو تورونه د نافذو کړنالرو سره سم ذیصلاح مراجعو ته وسپاري، او زه د انتخاباتي شکایتونو د کمیسیون او محکومو څخه غوښتنه کوم چې خپلې دندې په موثره توګه ترسره کړي.

۶۳. د ټاکنو تیاري، په ځانګړي توګه د نویو رایه ورکونکو نوم لیکنې بشپړول، باید دیرو افغانانو ته اجازه ورکړي چې د لسمشرۍ په ټاکنو کې د لومړي ځل لپاره رایه ورکړي. د ټاکنو د تمویل لپاره د حکومت له خوا د ۹۰ میلیون ډالرو پې ساري ژمنې له ۲۰۰۱ راهیسې لومړۍ بیلګه په ګوته کوي چیرې چې د افغانستان انتخابات د ملي بودیجې څخه تمویل شوي. د ټاکنو د پروسې په اړه د رایه ورکونکو او نورو برخه والو ترمنځ د پوهاوي تشې ته په پام سره، زه د انتخاباتي مدیریت له بنسټونو څخه غوښتنه کوم چې د عامه خلکو لاسرسی لا غښتلی کړي.

۶۴. د ناکراره امنیتي وضعیت پشمول د دولت ضد عناصرو لخوا د ټاکنو پروسې ته مستقیم ګواښونه خورا ډیر د اندیښنې وړ دي، چې ممکن ډیری افغانان د رایه ورکولو څخه منع کړي. زه پر طالبانو او نورو وسله والو ډلو غږ کوم چې د انتخاباتي کارمندانو، کاندیدانو یا رایه ورکونکو ګواښولو یا هدف ګرځولو څخه ډډه وکړي، د انتخاباتي سایټونو زیان رسولو یا د انتخاباتي پروسو له ګډوډولو څخه ډډه وکړي او د افغانستان خلکو ته اجازه ورکړي چې خپل سیاسي حقونه په خونديتوب کې او پرته له تاوتریخوالي، ډارونې او غچ اخیستنې څخه ، وکاروي. هغه بریدونه چې د رایه ورکونې په مرکزونو او ملکي وګړو باندې چې د ټاکنو په پروسه کې برخه اخلي، د نړیوال قانون نقض دي او عاملینو سره یې باید حساب وشي.

۶۵. په افغانستان کې جګړه اوږده او بې رحمانه ده او د سولې لار به له ننګونو ډکه وي. د متحده ایالتونو او طالبانو تر منځ د خبرو دوام، په قطر کې د افغانستان د سولې د خبرو اترو او د سولې په اړه د سیمه ییزې اجماع د رامنځ ته کولو لپاره د هڅو پیاوړي کیدو محتاطانه خوشبینۍ رامنځ ته کړې چې د سولې یوه رسمي پروسه به ډیر ژر پیل شي. په هرصورت ، دا ډول پروسه به یوازې هغه وخت دوام وموږي چې ټولشموله وي، د ټولو افغانانو د بنسټیزو حقونو څخه ساتنه وکړي او بنسټ یې پر یوه پراخه اجماع ولاړ وي. زه یوځل بیا د افغانستان د حکومت او طالبانو ترمنځ د مستقیمو خبرو اترو د پیلیدو غوښتنه کوم ، چې موخه یې د ژورو مسلو حل او کوم چې یوازې د افغانانو لخوا او د هغوي تر منځ د خبرو اترو له لارې حل کیدای شي. ملګري ملتونه چمتو دي چې په هر ډول چې کولای شي د دې بهیر ملاتړ وکړي.

۶۶. افغان ښځو د شخړې پر مهال, لوړه بیه پرې کړې او د تیرو څلورو لسیزو په اوږدو کې یې شخړې هیواد اغیزمن کړی. نن ورځ ، دوی هغې کچې ته رسیدلي چې د ټولنې په ټولو برخو کې خپل مناسب ځای ومومي او د سوله ییزې ټولشموله ټولنې په رامنځ ته کولو کې مرکزي رول لوبوي ، لکه څنګه چې د ښځو ، سولې او امنیت په اړه په ملي عمل پلان کې راغلي. په جولای کې شورا ته په خطاب کې، د عمومي منشي مرستیال د سولې لپاره د افغانو ښځو له خوا د قوي غوښتنې یادونه وکړه ، په ځانګړي توګه د هغې سولې یادونه کومه چې په سختې سره د دوی د ترلاسه شویو حقونو ساتنه کوي او د هغو شیانو په اړه کوم چې تر دې دمه ترلاسه شوي، په شاتګ نه

کوي. زه د هغې په غوښتنه یو وار بیا ټینګار کوم چې افغان ښځې باید د سولې د بهیر په ټولو پړاونو کې د بشپړ او معنی لرونکي ګډون څخه برخمنې شي او په ټولو هغو پریکړو کې چې د دوی راتلونکې اغیزمنه کوي، برخه واخلي.

۶۷. د افغانستان اقتصادي پرمختیا باید د خپلو نړیوالو شریکانو د موجوده تمویل د ژمنتیاوو په واسطه او د افغانستان د دولت لخوا د ځان بسیاینې په لور د ثابت او دوامداره پرمختګ په واسطه پیاوړې شي. د دولت، کلیدي بسپنه ورکونکو او ملګرو ملتونو تر منځ رغنده بحثونه د جولای په میاشت کې د همغږۍ او ارزونې د ګډ بورډ په ناسته کې ترسره شوي او د هغې ژمنې ستاینه کیږي چې موخه یې د ژینیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې د چوکاټ لپاره د راپور ورکولو د میکانیزمونو اصلاح کول دي. لکه څنګه چې حکومت تصدیق کړي ، د افغانستان د اقتصادي راتلونکې خوندي کول به د دې هیواد د خصوصي سکټور د مخ پر ودې پرمختګ، د پانګوالو د بهتر شوې باور او اعتماد او د سیمه ییزو همکارانو سره د سوداګرۍ او زیربنایي نښلون پراختیا ته اړتیا ولري. یوازې د دې عواملو په کارولو سره به افغانستان وکولای شي د سلګونو زرو ځوانانو لپاره د کار زمینه برابره کړي کوم چې هر کال د کار ځواک ته داخلیږي او د دوامداره هوسایني لپاره شرایط رامنځ ته کوي.

۶۸. د یو څه پرمختګ سربیره ، فساد لا هم په افغانستان کې د یوې خطرناکې ننګونې په حیث پاته ده، او د هغو ارزښتناکو سرچینو د مصرف مخه نیسي چېرې چې ورته په نورو ساحو کې اړتیا لیدله کیږي او همداراز په دولتي بنسټونو د خلکو باور له منځه وړي. په ځانګړې توګه د شتمنیو د اشاعې او تایید او د فاسدو چارواکو د محاکمه کولو په برخه کې د فساد پر وړاندې د اصلاحاتو ورو حرکت د اندیښنې یوه سرچینه ده. زه حکومت هڅوم چې خپلې هڅې په هغه برخو کې دوه چنده کړي ، کومې چې په روانه مبارزه کې خورا مهمې دي او موخه یې د فساد د جرمونو لپاره د معافیت سره مبارزه او د قانون پر وړاندې د ریښتینو مساواتو را منځ ته کول دي.

۶۹. د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نیمایي موده کې د ملکي تلفاتو کچه کمه شوې. په هر صورت ، زه د لوړې کچې د زیان په اړه، د ژوند د زیان او ټپي کیدو په شمول، چې شخړه یې په دوامداره توګه ملکي کسانو ته اړوی، اندیښمن یم. دولت ضد عناصر په تیره بیا د ځانمرګو او غیر ځانمرګو په لاس جوړ چاودیدونکو توکو د کارولو له لارې په دوامداره توګه په عمدي ډول ملکي کسان په نښه کوي. زه د افغانانو د هغې غوښتنې ملاتړ کوم چې موخه یې د صفر کچې ته د ملکي تلفاتو د شمیر را ټیټول دي. د جګړې ټولې خواوې باید د نړیوال بشر دوستانه قانون او د بشري حقونو تر قانون لاندې خپلو مسؤلیتونو ته درناوی وکړي او د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره سمدستي اقدامات ترسره کړي.

۷۰. د جولای په میاشت کې د بشري حقونو د شورا لخوا د نړیوالې دوره یې بیاکتنې د خپلې دریمې دورې په جریان کې د حکومت له خوا د ډیری وړاندیزونو منل ، چې موخه یې د هغو وړاندیزونو پشمول چې د په خپل سر توقیف ، شکنجې ، اجباري ورکیدنې او غیرقانوني وژنې او همداراز د عاملینو د محاکمې د ادعاوو د چټکې ارزونې غوښتنه کوي، یو ښه ګام دي. زه حکومت دې ته هڅوم تر څو د اجباري ورکیدنې څخه د ټولو کسانو د خوندیتوب لپاره د نړیوال کنوانسیون سره په موافقت غور وکړي او په دې اړه چې په بشپړه توګه یې له منځه یوسي د عمومي اسامبلې د اړوندو پریکړه لیکوونو سره په سمون کې د اعدام د سزا د کارونې په اړه قانوني مهلت را منځ ته کړي. د امنیت او شخړې سره د اړوندو توقیفیانو درملنه ، د کوچنیانو په شمول، ، په ځانګړې توګه د طرزالعملي ساتنې څخه د برخمن کیدو په برخه کې اضافي تجدید شوې پاملرنې ته اړتیا لري.

۷۱. افغانستان د بشری کارکوونکو لپاره ، په نړۍ کې یو له خورا خطرناکو هیوادونو څخه شمیرل کیږي څوک چې په دوامداره توګه د خپلو ارزښتناکو کارونو په ترسره کولو کې د نه منلو وړ خطرونو سره مخ کیږي. په ۲۰۱۹ کې تر دې دمه په مرستندویه کارمندانو د بریدونو زیاتوالی ، او همدارنګه د روغتیایي او تعلیمي تاسیساتو پر وړاندې د لوړې کچې د بریدونو دوام د نه منلو وړ دي. دا ډول بریدونه د نړیوال بشردوستانه قانون څخه نقض دی او کولای شي زیان منونکي ټولنې د لازمو بشري مرستو ته د لاسرسي څخه بې برخې کړي. زه د شخړې په تولو ښکیلو خواوو غږ کوم تر څو د بشر دوستانه کارمندانو پر وړاندې د برید کولو او د بشر دوستانه پروګرامونو د ګډوډولو څخه ډډه وکړي او د داسې کارمندانو د خوندي لاسرسي لپاره زمینه برابره کړي کوم چې خورا اړمنو خلکو ته مرستې رسوي. زه همدارنګه پر مرستندویانو هم غږ کوم چې د بشړپالنې د غبرګون د پلان تمویل زیات کړي ، کوم چې په بې سارې توګه کم هزینه پاته شوی.

۷۲. زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکوونکو او د افغانستان لپاره زما د ځانګړي استازي او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي د مشر تدامیچي یاماموتو څخه تر ننګونو ډکو شرایطو لاندې د هغوي د دوامداره تعهد لپاره چې موخه یې د افغانانو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو سرته رسول دي، مننه کوم.